۵۴۳

هفته نامه

بجز اصلاح اراده دیگری ندارم مولانا مودودی

اصلاح ملی

سیاسي، ټولنیزه او فرهنګي اوونیزه

۳۲ مه ګڼه ۱۳۹۳ لمریز کال د قوس لومړی د ۱۳۳۶ هـ ق د محرم ۲۹ د ۲۰۱۴ د نومبر ۲۲ مه

سوله تر هر څه اړینه ده

بی سوادی زنان و اثرات ناگوار آن در زندگی

د واک دشراکت فارموله د بحران حل او که په خپله یو بل بحران؟!

"بهرني دوستان" په افغانستان کې د چا په ګټه کار کوي؟

گسترش روابط تجارتی با پاکستان؛ به نفع افغانستان یا به ضرر آن؟

صورتهایی از لذت عبادت

اصل این است هر عبادتی که انسان مؤمن را به خدا نزدیک گرداند، لذت و حلاوت خود را خواهد داشت که ما در اینجا برخی از انواع لذت عبادت را بیان می‌کنیم.

۱- لذت ایمان: ایمان دارای لذتی است که هیچکدام از لذایذ دنیای فانی با آن قابل مقایسه نیست. از انس روایت است که پیامبر فرمود: (ثلاث من کن فیه وجد بهن حلاوة الإیمان)؛ سه چیز درهر کس موجود باشند به حلاوت ایمان رسیده است. پس ایمان دارای طعم و حلاوتی است که توسط دل چشیده می‌شود؛ چنانچه شیرینی طعام و شراب با دهان چشیده می‌شود. ایمان نیرو و غذای دل است.

۲- لذت عبادت: نماز دارای لذت بزرگی است که پیامبر اکرم بدان دست یافته است. چنانچه درحدیث آمده که انس بن مالک روایت نموده که رسول اکرم فرمود: در دنیا سه چیز نزد من محبوبند: زن، بوی خوش، نماز که نور چشمم است. بهمین خاطر نبی اکرم هنگامی که به بلال می‌گفت: ای بلال پا شو و توسط نماز ما را به آرامش برسان! به لذت نماز دست می‌یافت.

۳- لذت قیام اللیل: در اثر از نافع بن عمر آمده که می‌گوید: روزی مادرم به خوابم آمد و رو به من کرد می‌خواهم تو را درخواب ببینم پسرم! من هم در جوابش گفتم: مادر جان قسم به خدا هنگامی که شب بر من وارد می‌شود، می‌ترسم بگذرد و من نتوانم در آن، حاجت خود را بر آورده سازم (بهمین خاطر بگذار شب‌ها نخوابم و به مناجات خدا بپردازم.) .

۴- لذت تلاوت و خواندن قرآن: عثمان بن عفان می‌فرماید: اگر دلی سالم داشته باشیم هرگز از خواندن قرآن سیر نخواهیم شد. چطور دوستدار از سخن کسی سیر خواهد شدکه مطلوب و هدفش است.

۵- لذت انفاق در راه الله جل جلاله: انفاق در راه الله، لذت و حلاوت خاص خود را دارد. ابوطلحه چنانچه بخاری و مسلم روایت می‌کنند به این لذت رسیده است آنگاه که ارزشمندترین مال خود را در راه خدا انفاق نمود. و این لذت را ابو دحداح چشیده است آنگاه که تمام مزرعه‌اش را در راه الله انفاق نمود.

٦- لذت طلب علم: امام شاطبی می‌فرماید: در طلب علم لذتی هست که با هیچیک از لذت‌ها قابل قیاس نیست؛ چرا که طلب علم نوعی استیلا بر معلوم است و نفس‌ها بر محبتِ استیلا و غلبه آفریده شده‌اند. و دل‌ها بسوی آن تمایل پیدا می‌کنند. که این لذت را اربابان علم خوب درک می‌کنند. ابن‌جوزی می‌گوید: حلاوت طلب علم نزد من از حلاوت عسل لذتبخش‌تر است! در زمان کودکی چند قرص نان خشک را با خود بر می‌داشتم سپس به دنبال طلب علم به راه می‌اُفتادم و بر سر آبی می‌نشستم، لقمه‌ای نان! می‌خوردم و جرعه‌ای آب، می‌نوشیدم. اینهمه سختی مرا از لذت طلب علم، دور نساخت.

اصلاح ملی را از اینجا بدست آورید

کابل: تایمنی، چهار راهی حاجی محمد داد، سرک ۴، دفتر مرکزی جمعیت اصلاح. تیلفون: ۰۷۹۹۳۹۴۰۱۵/ ۲۰۲۲۰۴۳۰۵

کابل: کوته سنگی، سرک سیلو، بلاک های شاداب ظفر، انتشارات اصلاح افکار: موبایل: ۰۷۷۸۱۹۱۳۸۲

کابل: شهر نو، چهار راهی انصاری، کتاب فروشی رسالت. ۰۲۰۲۲۰۳۳۵۹

کابل: انتشارات مستقبل مقابل بلاک های شاداب ظفر،

کابل: کمپیوتر فروشی الکاموي جاده نادر پشتون، مارکیت الله نظرمنزل۲ دوکان ۲۳/ . ۰۷۹۹۳۹۰۸۱۹

کابل: کابل ده افغانان کتاب فروشی بیهقی

کابل: انتشارات بنیاد علمی و فرهنگی مسجد جامع پل خشتی ۰۷۹۹۰۱۱۱۱۱ / ۰۷۵۲۲۲۲۲۲۲

ننگرهار: جلال‌آباد، نارنج باغ، عبدالحق مبنه، (دکابل د موټرو اډه) د جمعیت اصلاح ساحوي دفتر ټیلیفون: ۰۷۰۰۶۳۲۴۸۰

جلال اباد- اسحاقزی مارکیټ، لاندې منزل، اصلاح افکار تلپفون: ۰۷۹۳۷۷۸۸۸۱

کندهار: نوی ښار، د هرات سړک، د سړي جامع غرب طرف ته سوري مېنه د امام ابوحنیفه رح تعلیمي او کلتوري مرکز د جمعیت اصلاح ساحوي دفتر د تلپفون: ۰۷۰۰۳۰۸۲۷۱ ـ ۰۷۰۰۶۶۸۹۴۸

لغمان: مهترلام ښار، حمزه مارکیټ تیلفون: ۷۹۹۴۴۲۹۲۰

هرات: جاده بانک خون، بالا تر از تالار قمر، گذر هشت بهشت، انجمن اخلاق و معرفت تیلیفون: ۰۴۰۲۳۵۵۹۰

بلخ: عقب حمام سره میاشت، مرکز تعلیمی اصلاح

کندز: شهر کندز، جاده ولایت، کوچه حاجی میری، مؤسسه تحصیلات عالی سلام ۰۷۸۷۷۰۳۷۲٤

بغلان: پلخمری، مارکیت اتفاق کتاب و قرطاسیه فروشی رسالت ۰۷۰۰۵۸۹۸۵۷ /۰۷۷۷٤۷٦٤٦۹

لوگر: مرکز، مدینه مارکیت سرک مسجد جامع، کتاب فروشی سادات، سید عبدالحمید هاشمی، تیلفون: ۰۷۰۰۴۴۹۸۱

لوگر: محمدآغه، واغجان بازار، پهلوی کلنیک حسین خیل، تیلفون: ۰۷۷۵۴۱۳۸۷۶

پکتیا: د گردیز ښار، مرکزي چوک، د نی نمایندگی وحید الله: ۰۷۷۹۲۱۳۸۲۲

خوست: افغان تاور شاته خوست مرکزي طبي لابراتوار دوهم پور د جمعیت اصلاح ساحوي دفتر د اکتر محمد گلاب: ۰۷۹۹۱۷۴۵۴۶/ ۰۷۷۷۱۷۴۵۴۶

تخار: بازارچه کتاب دکان مولوی حبیب الرحمن ۰۷۷۹۶۳۴۱۹۲

بدخشان فیض آباد: ۰۷۷۵۲۷۰۵۰۸ / ۰۷۰۷۸۳۱۳۶۴

زابل: ۰۷۰۰۳۰۱۹۴۸

فراه: جاده مخابرات دست راست مرکز علمی و فرهنگی توحید ۰۷۰۳۲۰۲۰۴۴

کونړ: د معارف ریاست ته مخامخ د جمعیت اصلاح ساحوي دفتر

پیشور: مرکز فرهنگی اسلامی افغانستان/ تیلفون: ۱۵۸۵۲۷۹۵

شماره مسئول توزیع: ۰۷۸۵۴۲۹۱۱۳

قیمت یک شماره ۱۰ افغانی

جمعیت اصلاح افغانستان

بخش فرهنگی و نشرات

هفته نامه اصلاح اونیزه

د اسلام د اصیل فهم منبر

Email:eslahmilli@gmail.com

رئیس هیأت تحریر:

احمد ضیاء رحیمزی

مدیر مسؤول

محمد شعیب قریشي

اعضاء هیأت تحریر:

نقیب الله حمید
عبدالفتاح جواد
محمد اکبر مؤحد
ډاکټر وحید الله مصلح
عزیز احمد حنیف

همکاری نقدی تان به ما بفرستید

آدرس بانکی: جمعیت اصلاح وانکشاف اجتماعی افغانستان کابل بانک
A/c No=1001202080036
(افغانی)

آدرس بانکی: جمعیت اصلاح وانکشاف اجتماعی افغانستان کابل بانک
A/c No=1001201080036
دالر امریکائی

سرمقاله

سوله تر هرڅه اړینه ده

له آزادۍ راډیو سره د پخواني ولسمشر ښاغلي حامد کرزي مرکه ډېر داسې ټکي لري چې په افغانستان او سیمه کې د امریکایانو اصلي موخې په ګوته کوي او دهغوی له دوه مخیزه سیاست نه پرده پورته کوي.

د کرزي په وینا چې په هېواد کې د خصوصي امنیتي شرکتونو جوړېدل او د غربیانو له لوري د هغو مرسته په هېواد کې د نا امني او یو متوازي قوت د رامنځ ته کېدو سبب شول.

په داسې حال کې چې دا ګونګوسی ؤ، چې ګواکې نوي ولسمشر امریکایانو ته یوځل بیا د شپې له لوري د عملیاتو اجازه ورکړې ده، ولې د ولسمشر د دفتر له لوري ددې خبرې ردول یوه اندازه خلک ډاډمن کړل.

ولسمشر محمد اشرف غني باید د تېر ولسمشر له تجربو بشپړه ګټه پورته کړي او داسې نه شي چې هریو دې خپلې تجربې کوي او کله چې په اصلیت وپوهېږي نو د ولسمشري دوره یې پای ته رسېدلی وي.

مونږ په وار وار دا خبره کړې ده چې امریکایان دلته د سولې راوستلو لپاره نه بلکې د جګړې د اوږدلو لپاره راغلي دي او یوازې جګړه ده چې ددوی موخې پکې ترلاسه کېږي او ددوی د شتون لپاره یوه غټه پلمه ده، نو دهمدې لپاره داسې کړنې ترسره کوي چې افغانان نور هم له حکومت او دولت سره فاصله پیدا کړي او د افغانستان د پرمختګ، امن او یووالي مخه ونیول شي.

نن هم ځیني پردۍ پاله کړۍ لکه: د پخوانیو شوروي پلوه کمونیستانو په څېر چې د شوروي دوستي یې د وطن دوستۍ نښه ګڼله، دوی هم د امریکا د هرې کړنې نه ننګه د هېواد دوستۍ نښه ګڼي او پر امریکا نیوکه د ملي منافعو خلاف ګڼي.

په تېرو دیارلس کلونو کې په افغانستان کې سره له دې چې امریکایانو هرڅه په خپله ولکه کې لرل، په هېواد کې یې د مختلفو سیاسي، نظامي، د مدني ټولنو په نامه او ځینو رسنیو په لاس کې نیول له لارې یو متوازي حکومت جوړ کړی ؤ چې تر ننه یې هم رېښې همغه شان قوي دي او په هره مسئله کې د امریکا ننګه کوي او هېواد د بې ثباتۍ لور ته بیایي.

نوي ولسمشر نه د خلکو هیله داده چې تر هرڅه لومړی د سولې خواته خپل پام واړوي او هغه څېرې، ډلې، ټولنې او امنیتي شرکتونه خلکو ته وروپېژني چې دنورو په ګټه د هېواد د ملي ګټو او پرمختګ پر وړاندې د پردیو په ګټه خنډ دي، تر هغو چې په هېواد کې رښتینې سوله نه وي راغلي تر هغو به نه دا هېواد پرمختګ وکړي، او نه به د پردیو له لاس وهنو او په امن کې شي.

په حکومت کې دننه ځنې کړۍ هم داسې دي چې نه غواړي له مسلحو مخالفینو سره سوله وشي، ځکه چې ددوی ګټې په دې کې دي چې په یوازې سره په حکومت کې ځنې چوکۍ ولري، که هغه ددې هېواد د بربادۍ په بیه هم وي، خو چې یوازې ددوی شخصي ګټې تضمین وي، نو په یوه او بله پلمه د سولې دخبرو مخالفت کوي.

نو لکه څنګه چې ولسمشر په وار وار وعده کړې ده باید د سولې په راوستلو کې جدي او ګړندي ګامونه اوچت کړي او ددې کار لپاره داسې څېرې رامنځ ته کړي چې په رښتینې توګه ددې کار جوګه وي، نه هغه چې په تېر پېر کې یې هم په یوطرفه ډول د هغه او دغه او شخصي مصلحتونو له مخې کار کولو چې هېڅ پایله یې نه لرله او لاهم هېواد د بې امنیتۍ پر لوري حرکت وکړ.

د واک دشراکت فارموله
د بحران حل او که په خپله یو بل بحران؟!

عبدالفتاح جواد

د ملي وحدت حکومت له جوړېدو سره ملت ته دا هیله پیدا شوه چې ممکن هېواد مو له سیاسي او اقتصادي بحران نه کرار کرار ووزي او د هغو وعدو د عملي کولو وخت راورسېږي چې د ټاکنیزې سیالۍ په کمپاینونو کې د ولسمشرۍ کاندیدانو کړې وې، ځکه اوس خو دواړه په واک کې دي او د هېواد چارې پرمخ وړي.

اما تر اوسه چې د واک پر شراکت د شوې معاهدې او تړون نه میاشتې تېرېږي، هغه ډېره اساسي قضیه چې د کابینې تشکیل او جوړښت دی هم یو طرفه شوې نه ده او دغې قضیې ته د ګمارل شوي کمیسیون غړي هم وایي چې د واک پر وېش، د کابینې پر جوړښت، د وزارتونو، ریاستونو او سفارتونو پر وېش ناندرۍ روانې دي او خبره همداسې پسې غځېږي.

له دې واقعیت نه سترګې نشو پټولای چې ملت مو د هرې ورځې په تېرېدو سره مایوسه او نهیلۍ کېږي، هغه هیلې چې د ملي وحدت حکومت په پیل کې موجودې وې، بیرته مړاوې شوې دي، ځکه چې هغوی ویني، د واک د شراکت په فارموله کې شریک لوري داسې سره ټینګ دي چې یوبل ته تېرېدنه نلري، د لویو وزارتونو نه نیولې تر عادي ریاستونو پورې به دوی سره وېشي او که نه نو خبره به بیرته کشمکشونو او لانجو ته وزي، دوی داسې انګیري لکه چې واک یې په غنیمت نیولی دی، حال دا چې ملت د ستونزو په ګرداب کې ساه ورکوي، نا امني او چاودنې ورځ تر بلې ـ هغه هم په پایتخت کې ـ په زیاتیدو دي، تجارت او سوداګریز کاروبار په ټپه ولاړ دی، د بیارغونې او انکشاف پروژې له ځنډ او خنډ سره مخ دي، وزیران، والیان او ټول چارواکي سرپرست او نیمه سلب صلاحیت دي، ټول نوې کابینې ته سترګې پر لاره دي.

مونږ په ټینګار سره وایو چې زمونږ سیاستوال په ځانګړې توګه په واک کې شریک لوري دنده لري څو دغه بحراني حالت ته د پای ټکی کېږدي، دغه د بې باورۍ کیفیت ختم کړي، هېواد او ملت په نظر کې ونیسي او دښمنانو ته دا چانس ور نه کړي چې بحران وهلی هېواد مو نور هم په اور واړوي.

مونږ د وضعیت د ښه کېدو او غوره راتلونکي په لور د ګام اخیستلو په خاطر څو مشورې لرو چې په ځانګړې توګه د کابینې د جوړښت پر مهال په پام کې ونیول شي:

کار اهل کار ته سپارل:

په ماضي کې زمونږ د هېواد ستره ستونزه دا وه چې دلته واک، کار او دولتي پوستونه د یو شمېر مجبوریتونو له مخې وېشل شوي دي، یوه ګوند، یوې ډلې، یوه شخصیت ته د نظام یوه برخه سپارل شوې ده، نو هغه به ورته وړ کسان درلودل او یا هم نه، خو دا چې اوس یې په وېش کې وړي دي، نو باید ورسره وي، او که داسې به ونه شول نو بیا به امن، استقرار او نظم تهدید وو، اما تردې وروسته باید داسې ونشي او هره دنده، وزارت او ریاست داسې چاته ورکول شي چې هغوی پکې تخصص، وړتیا او ظرفیت ولري.

فساد او مفسدینو سره مبارزه:

له فساد سره مبارزه هم شرعي مسئوولیت دی او هم د وخت او مصلحتونو غوښتنه ده، له بده مرغه زمونږ په نظام کې فساد ریښې ځغلولې دي او هېڅ کار له رشوت، بډو او پیسو ورکولو پرته نه کېږي، له واک نه ناوړه استفاده، واسطه بازي، په خپل قوم او کورنۍ د واک وېش، د ځمکو غصب او داسې نورې ګڼې ستونزې شته چې باید مخه یې ونیول شي، په تېرو دیارلسو کلونو کې د فساد له امله مونږ ټول خارجي کومکونه او مرستې هسې په سیند لاهو کړې او هغه زیاتره د څو بهرنیو کمپنیو او شرکتونو او داخلي باندونو ترمنځ ووېشل شوې، چې یو ډول طبقاتي نظام یې هم رامنځته کړ، یو شمېر د مال او شتمنۍ د ډېرښت نه په تکلیف دي او یو غټ شمېر بیا د ژوند اساسي ضرورتونه هم نشي پوره کولی.

د دیني او ملي ارزښتونو ساتنه:

افغان مسلمان ولس د تاریخ په اوږدو کې په اثبات رسولې ده، چې عقیده، باورونه او ارزښتونه یې سره کرښه ده، وړی او تږی صبر کولی شي اما د دیني او ملي ارزښتونو د ساتنې په اړه حساس دی، په همدې موخه یې یو نیم میلیون قربانۍ هم ورکړې دي، نو ځکه خو دا باید د نظام په لوړو او اساسي موخو کې وي، چې له دیني او ملي ارزښتونو څخه پاسداري او ساتنه وکړي، داسې څوک چې پدې اړه تېروتنه او سهل انګاري کوي، په کار ونه ګماري، د کار سپارلو پر مهال د تخصص ترڅنګ تعهد ته هم وګوري او د دواړو خصوصیتونو درلودونکو خلکو ته په لومړیتوب قایل شي.

د سولې ټینګښت:

امن او کراري د ژوند له اساسي اړتیاوو څخه دي، که امن نه وي، نو هېڅ مثبت کار نه کېږي، نو په همدې خاطر دولت باید د جګړې د پای ته رسولو، ټول افغانان په یوه میز کینولو او د بین الافغاني تفاهم ایجادولو ته زیاته توجه وکړي، د تېرو دیارلسو کلونو تجربې ثابته کړه، چې وینه په وینه نه وینځل کېږي، بلکې سترې سترې لانجې او کشمکشونه هم په خبرو او تفاهم حل شوي دي، د لسیزو جګړې د خبرو او سیاسي دیالوګ په پایله کې په سوله او امن تمامې شوې دي، نو ځکه خو باید د سولې ټینګښت ته ډېره توجه وشي.

مونږ له لوی او متعال الله جل جلاله څخه هیله لرو چې زمونږ هېواد ته سوله او امن راولي، جګړه پای ته ورسوي، او دا توفیق راکړي چې په خپلو مټو او خپلو ارادو خپل هېواد جوړ کړو.

گسترش روابط تجارتی با پاکستان؛ به نفع افغانستان یا به ضرر آن؟

گروپ رسانه یی اصلاح- نعمت الله عزیزی

در جریان اولین سفر رئیس جمهور محمد اشرف غني به اسلام آباد، از عقد چند پیمان تجارتی و گسترش روابط تجارتی بین دو کشور نیز بحث بعمل آمد، داکتر عمر زاخیلوال مشاور اقتصادی رئیس جمهور که دراین سفر شامل بود گفته است که در جریان این سفر موافقنامه مشخص در قبال گسترش تجارت بین دو جانب ،منعقد گردید که به اساس آن تجارت بین دوکشور بیشتر خواهد شد و میزان کنونی تجارت بین دو کشور که حالا دونیم میلیارد دالر امریکایی است، به پنج میلیارد دالر افزایش خواهد یافت، همچنان لاری های افغانستان می‌توانند تا بندر تجارتی کراچی، رفت آمد کنند، که برای عملی شدن این موافقتنامه قید زمانی تعین شده و در ظرف یکماه آینده مشخص خواهد شد که این توافقات عملی شده اند یا نه؟گروپ رسانه ای اصلاح در این مورد با کارشناسان اقتصادی ومعاون اتاقهای تجارت وصنایع صحبت های داشته که جا دارد خلاصه بحث را با شما شریک سازیم.

افزایش تجارت افغانستان با پاکستان:

همان گونه که یاد آورشدیم در این سفر رئیس جمهور موافقه شد که تجارت بین هردوکشور به ۵ میلیارد دالر برسد؛ سوال اینست که آیا این کار باعث نخواهد شد که کالاهای پاکستانی در بازار های افغانستان از حد بیشتر شود؟ سیف الدین سیحون استاد پوهنځی اقتصاد پوهنتون کابل در همین مورد می گوید:" بدون شک که این کار باعث افزایش کالاهای پاکستانی دربازار های افغانستان خواهد شد، ولی قبل از این هم تجارت بین دوکشور به اندازه سه تا چهار میلیار می رسید که به گونه صحیح ثبت وراجستر نمی گردید."

به باور وی پیش از این هم کالاها به گونه ای قاچاقی تبادله می شد، حال که این پروسه با درنظرداشت منافع هر دوطرف قانونی شود بهتر خواهد بود.

به نظر آقای سیحون، افغانستان باید در پهلوی واردات، سطح صادرات خود را هم افزایش دهد که در آنصورت نفع بیشتر بدست می آید.

محمد یونس ابراهیمی استاد پوهنتون وکارشناس مسایل اقتصادی به این نظر است که موافقتنامه های که در بخش اقتصادی منعقد می گردد، تمام طرفها اولتر از همه در آن منافع خود را درنظر می گیرند.

به باور وی ازیک سو این کار خوب و به اقتصاد هر دو کشور مفید خواهد بود ولی از سوی دیگر در بازارهای افغانستان کالا های پاکستانی بیشتر خواهد شد.

به گفته ابراهیمی دربین کشورهای همسایه، پاکستان در صدر قرار دارد که ما از کالاهای آن استفاده می کنیم، که در این کار پاکستان می تواند منافع بیشتری بدست بیاورد.

استاد ابراهیمی می افزاید که در قرار داد های منعقد شده تجارتی باید به منافع افغانستان توجه شود، و چون افغانستان کشور محصور به خشکه است، اگر کالاها را از کشورهای دیگر وارد می کند برایش قیمت تمام می گردد.

به باور این کارشناس مسؤولین اداره نورم واستندرد و وزارت صحت عامه افغانستان باید به کیفیت اجناس مصرفی توجه بیشتر داشته باشند، چون در گذشته بیشتر اجناس بی کیفیت وارد بازار های افغانستان می گردید.

خان جان الکوزی معاون اتاقهای تجارت وصنایع که در این سفر با رئیس جمهور اشرف غنی همراه بود دراین مورد می گوید:" دراین سفر موافقتنامه های به امضاء رسید که به اساس آن سطح تجارت بین هر دوکشور به پنج میلیارد دالر بالا خواهد شد."

وی می افزاید تا حال که افغانستان تنها واردات داشت پس از این سطح صادرات آن هم بالا خواهد رفت که اموال افغانی هم به کشور چین صادر شود واین موضوع به نفع هر دوکشورمی باشد.

به باور وی ما به موادی ضرورت داریم که پاکستان آنرا تولید می کند وهمچنان پاکستان نیز به بعضی از مواد ماضرورت دارد.

الکوزی می افزاید که تاحال یک سلسله تجارت غیر قانونی بین دو کشور، جریان داشت که پس از این تلاش ما این است که این تجارت را قانونمند سازیم.

آقای الکوزی درادامه صحبت خود می گوید:" قبل از این میوه جات افغانستان به نام پاکستان به کشور های دیگر صادر میشد که باید این کار متوقف شود وبه نام خود افغانستان و با نشانه ای این کشور فرستاده شود."

رفت و آمد مستقیم عراده جات تجار افغانی تا بندر کراچی:

استاد سیف الدین سیحون استاد پوهنځی اقتصاد در مورد اینکه حال یک بار دیگر این موافقتنامه تازه شده که عراده جات باربری تجاران افغانی، بشکل مستقیم به بندر کراچی بروند واز آنجا هم اجناس مورد ضرورت خود را وارد کند؛بادر نظر داشت کار کرد قبلی پاکستان چه اطمینانی وجود دارد که این بار این وعده ها عملی شود؟ اظهار داشت:" قبل از این هم جانب پاکستان مشکل آفرین نبود، بلکه شرایط وضع شده مشکل ساز بود که باید ترانسپورت جهت افغانی به معیارها جهانی برابر وموتر های تجاران افغانی بیمه باشند، ولی متأسفانه تجاران افغانی این شرایط را در نظر نمی گرفتند.

به باور سیحون اگر تجاران افغانی ترانسپورت خود را به سیستم تی آی(آر) یا سیستم ترانسپورت جاده ای بین المللی عیار سازند؛ هیچ کشور حق ندارد که اجازه ترانسپورت برایش ندهد.

آقای سیحون خوشبین به نظر نمی رسد وبه این نظر است که افغانها در آینده هم شاید نتوانند شرایط این موافقتنامه را عملی کنند واز این گونه موافقتنامه ها استفاده اعظمی نمایند.

این استاد اقتصاد می افزاید که باید ما کمبودی خود را بپذیریم که راننده گان ما با مقرارات عیار نبوده و راننده گی را هم بشکل عنعنوی آموخته اند، نه به شکل معیاری.

محمد یونس ابراهیمی کارشناس مسایل اقتصادی و استاد پوهنتون خصوصی سلام، دراین مورد به این نظر است که این هم یک قدم نیک است که کالا ها مستقیما از بندر کراچی وارد افغانستان شود،و فواید آن به تجار افغانی برسد.

به باور وی اینکه جهت پاکستان تا چه حد به وعده های خود عمل می کند، برمی گردد به کسانی که مسئولیت تعقیب عملی شدن موافقتنامه ها را به عهده دارند، آنها باید وقت به وقت این مسایل را زیر نظر داشته باشند ومشکلات هر جانب را با آن مطرح سازند.

به نظر آقای ابراهیمی اگر این موافقتنامه ها عملی شود فواید بیشتر نصیب افغانستان خواهد گشت و تجاران افغانی خواهند توانست که میوه های افغانستان را به کراچی، هند وحتی به بازار جهانی برسانند.

ولی آقای خان جان الکوزی دراین مورد مشکل را دو طرفه می داند، یکی این که ترانسپورت کشور ما معیاری وبرابر به استندر های جهانی نیست وبه اساس موافقت نامه قبلی باید موتر های تجار افغانی بیمه می بود؛ و باید این مشکل حل گردد.

آقای الکوزی حکومت افغانستان را ملامت می کند که نتوانست شرایط وضع شده را تطبیق کند.

معاون اتاقهای تجارت وصنایع می افزاید جانب پاکستان هم این شرط های را که در موافقنامه قبلی وضع شده بود،عملی نتوانسته است باید آنها هم این شرایط را پوره سازند.

علاقمندی سرمایه گذاران پاکستانی در افغانستان:

سیف الدین سیحون استاد پوهنتون کابل در مورد علاقمندی سرمایه گذاری، سرمایه داران پاکستان وتاثیر آن بر تجارت در افغانستان می گوید:"ما در باره سرمایه گذاری قانونی داریم که هر کس با درنظر داشت آن می تواند سرمایه گذاری کند؛وما به سرمایه گذاری در کشور خود ضرورت داریم که بر تولیدات افغانستان تاثیر مثبت دارد."

به باور وی اینگونه سرمایه گذاری ها میتواند منافع مشترک را ایجاد کرده وبر امنیت وسیاست هم تاثیر مثبت داشته باشد.

آقای سیحون می افزاید که ما باید این توانایی را داشته باشیم، که در پرتو قانون، سرمایه گذاران را تا یک حدی کنترول کنیم.

همچنان محمد یونس ابراهیمی استاد پوهنتون سلام وکارشناس اقتصادی در همین مورد می گوید:" درسرمایه گذاری منافع هر دو جانب مطرح می باشد؛ وقسمی که در اقتصاد یک اصل است که هر کس تلاش دارد تا با سرمایه کمتر فایده بیشتر بدست بیاورد، به همین لحاظ، سرمایه گذاری پاکستان در افغانستان منافع دو طرفه خواهد داشت."

ابراهیمی به ادامه صحبت خود می افزاید که اگر حکومت بتواند درسالیان آینده در عرصه زراعت سرمایه گذاری خارجی وداخلی را جذب کند بسیارمفید خواهد بود.

خان جان الکوزی نیز در همین مورد می افزاید:" بر علاوه امضای موافقتنامه های تجارتی تشویق تجاران پاکستانی هم یکی از اهداف این سفر بوده است."

به گفته وی، خوشبختانه سرمایه گذاران پاکستانی هم علاقمندی نشان دادند تا در افغانستان بخصوص در شمال افغانستان، که ازلحاظ امنیت وبرق شرایط برای سرمایه گذاری آماده است، سرمایه گذاری کنند واز همان جا تولیدات خود را به آسیای میانه صادر کنند.

به باور الکوزی، بایدسرمایه گذاران پاکستانی در بخش زراعت هم سرمایه گذاری کنند؛ که این کار باعث رشد اقتصاد درکشور میشود، و به مردم زمینه کار مساعد شده و تولیدات بیشترخواهد.

نگرانی ازعملی نشدن این توافقات و موقف احتمالی حکومت افغانستان :

سیف الدین سیحون درجواب این پرسش ما که اگر باز هم پاکستان در عملی کردن وعده ها خود، صداقت نشان ندهد حکومت افغانستان در آنصورت چگونه موقفی اتخاذ خواهد کرد با یک آه سوزناک گفت:" متأسفانه حکومت افغانستان هیچ کاری کرده نمی تواند و در گذشته هم یک موقف بسیار ضعیف را اختیارکرده بود."

به نظر این کارشناس اقتصادی پاکستان یگانه کشور نزدیک ویک راه آسان برای تجاران افغان است، که هیچ بدیلی ندارد، افغانستان هیچ موقف در برابر پاکستان گرفته نمی تواند بخاطر اینکه به آن محتاج است.

به باور این استاد اقتصاد تا حال پاکستان هیچکدام موافقتنامه خود را عملی نکرده است وما در آینده هم امید این را نداریم که این وعده های خود را عملی کند.

آقای سیحون اینرا هم گفت که تا وقتیکه با پاکستان جنجالهای سرحدی حل نگردد قرارداد ها و موافقتنامه ها نمیتواند مشکلات را کاهش دهد.

استاد محمد یونس ابراهیمی نیز باکارشناس قبلی در این رابطه هم نظر است و می گوید که افغانستان در طول سالیان گذشته دریک جایگاه ضعیفی قرار داشته است، و جواب ندادن به کشور های که خلاف موافقتنامه عمل می کند باعث شده است که آنها جرائت بیشتر پیدا کند، وافغانستان متضرر شود.

استاد ابراهیمی یک راه حل را در این هم می داند که قبل ازعقد موافقتنامه ها اول شرایط عملی شدن آن آماده شود که برای جهت دیگر بهانه خلاف ورزی موجود نباشد.

خان جان الکوزی معاون اتاقهای تجارت وصنایع، با آنکه جواب به این پرسش را قبل از وقت می داند ولی می افزاید:" با تأسف که در طول سیزده سال گذشته پاکستان به وعده های خود پابند نبوده است که حال هم این تشویش موجود است."

الکوزی امیدوار است که حکومت جدید در قبال موضوعات جدی باشد واز راهای گوناگون بر پاکستان فشار بیاورد.

به باور این مسئول اطاقهای تجارت وصنایع امکانات فشارافغانستان محدود است چون به قول وی ما به مواد غذای وغیره ضرورت داریم که بیشتر از ۴۰ فیصد واردات ما از طریق پاکستان است.

الکوزی می گوید که اگر ما به عمل بالمثل می پردازیم و بر تجار پاکستانی فشار می آوریم، خود تجاران افغانی ما شکایت می کنند که در آنجا هم با آنها عمل بالمثل صورت می گیرد.

اما الکوزی برخلاف سایر کارشناسان به این باور است که حکومت افغانستان هم گزینه برای فشار دارد وبه گونه مثال می گوید گازی که به پاکستان از آسیای میانه از خاک افغانستان میگذرد، افغانستان می تواند آنرا مسدود کند.

ولی به نظر آقای الکوزی بهتر است که از راه های بین المللی بر پاکستان فشار آورده شود که در راه تجارت موانع ایجاد نکند. پایان

"بهرني دوستان"

په افغانستان کې د چا په ګټه کار کوي؟

عبدالرزاق حبيبي

نوي افغان ولسمشر په خپلو بهرنيو سياسي سفرونو کې لومړی سفر چين او عربستان ته وکړ، له لويديځ او ختيځ سره د اړيکو ساتلو او تعادل په برخه کې يقينا، چې دا سفر ډېر ارزښتمن ؤ او له چين څخه د افغانستان د سياسي، اقتصادي او ټولنيزو مشکلاتو په حل کې د ډېر څه هيله کېدی شي، ځکه د چين هېواد سياست تر اوسه اقتصادي سياست دی او جګړه ايز او نظامي سياستونه يې لا تر اوسه يا خو ځنډولي او يا هم لا ورته داخلېدل په ګټه نه ښکاري.

افغان دولت په افغانستان کې د ټولو ناخوالو سرچينه او لاملونه بهرني ګڼي او په سر کې يې ګوته پاکستان ته نيسي، بلخوا چين او عربستان له پاکستان سره ژورې اړيکې لري او له همدې لامله، افغان ولسمشر هم همدې هېوادونو ته ځکه سفر وکړ، تر څو ددې قوي دوستانو له لارې په پاکستان فشار راوړي، ترڅو يې ورسره "مرور ورونه" پخلا کړي، ځکه د دوی په اند ياد هېوادونه کولی شي، چې په دوی فشار وارد کړي، خو د دولت مخالفين د خپل استقلاليت خبره کوي او ځان د هېچا تر فشار لاندې نه ګڼي.

په افغانستان کې يوه ستره او عمده ستونزه دا ده، چې ددې هېواد د چارواکو په اصطلاح د بهرنيو دوستانو څخه نيولې بيا آن ترافغاني دولتي چارواکو هېڅوک هم د خدای د رضا په خاطر د افغانستان د سرلوړی او په خپلو پښو ودرېدو لپاره منډه نه وهي.

په اصطلاح بهرني دوستان له افغانستان سره خپلې هر ډول اړيکې د نورو قدرتمندو هېوادونو له نظره ګوري، که په افغانستان کې د دوی لخوا د خپل مصلحت په سرته رسولو کې له افغانستان بهر کوم دوست نه خفه کېده، نوافغانانو ته په سترګو کې د خاورو ورشيندلو لپاره يوه پروژه پرمخ بيايي او چې کله يې خپل مصلحت ختم او هدف ته ورسېدل نو په هماغه ځای کې يې پرېږدي، چې ښه مثال يې په کندهار کې د کاناډا لخوا د يو برېښنا د بند جوړول دي، چې نژدې ۷۰ فيصده کار يې پرمخ بېولی دی، خو د هدف د ترلاسه کولو وروسته يې کار په هماغه ځای کې په ټپه ودرېدلی او د هغه بند له رغونې يې خدای پاماني کړې ده.

هغه مکار بهرني هېوادونه، چې ځانونه د افغانستان دوستان ګڼي او يوشمېرپه لويديځ کې لوی شوي غوليدلي افغانان يې لا هم په خبره باور کوي، هېڅکله له دې هېواده سره په رښتيني توګه دوستان نه دي، ځکه دوست د دوست عزت غواړي نه سپکاوی، خو همدې بهرنيو دوستانو په تېرو ۱۳ کلونو کې افغانان تر کومې اندازې سپک کړل؟ افغانستان په اداري فساد کې اول شو، د مخدره موادو کرکيلې ته يې لاره هواره او زمينه يې ورته مساعده کړه، ويل کېږي، چې په جنوبي ولايتونو کې به چې کله د کوکنارو د کرکيلې وخت شو، نو د بهرنيو ټولې پروژې به ځکه په ټپه ودرېدې تر څو خلک ددې بد بوټي کرلو ته اړ شي او فصل او حاصل يې په اسانه ترلاسه کړي، د کوکنارو د فصل له ختمېدو سره به بهرنۍ پروژې هم بېرته پيل شوې.

بهرني دوستان لا هم ځان هغو هېوادونو ته ژمن ګڼي، چې افغان دولت يې خپل دښمنان ګڼي، ځکه دوی دلته له راتګ مخکې له هغوی سره يو شمېر توافقات کړي دي او دا هېوادونه له هغو هېوادونو سره له ټکر او ډغرو وهلو څخه په وېره کې دي، د ستراتيژيک تړون وروسته ټولو افغانانو هيله لرله، چې د ګاونډيو راکټي حملې او په افغاني خاوره تېری به بند شي، خو هېڅ هم ونه شول، ځکه بهرنيو دوستانو ته ګاونډيو هېوادونو له افغانستان څخه ډېر ارزښت لاره، او له هغوی سره اړيکې ورته تر افغانستان ډېرې مهمې وې.

د حامد کرزي وروستۍ مرکه د پورته ټولو خبرو ښه شاهده ده، هغه چې د هېواد د تر ټولو لوړپوړي چارواکي په توګه اعتراف کوي، چې د ستونزې او د افغانستان ددې بربادۍ او بدبختۍ کيلي له پاکستان او امريکا سره ده، هغه چې وايي چې امريکا پر افغانستان فشار راووړ، چې بهرنی سياست دې د پاکستان په خوښه پرمخ بوځي، خو د بهرنيو دوستانو افغاني همکارانو ته دا هر څه ځکه چټيات ښکاري، چې د هغوی ميليون ډالري پروژې له يادو هېوادونو سره په تقابل کې له ګواښ سره مخ کېږي.

ډېری افغانان تر هغه افغانستان او د هغه ګټو ته ژمن دي، چې تر څو يې له دې هېواده د يوې پيسې د شکولو وسه وي، او يا يې هم ترې ترلاسه کولی شي، چې کله يې ترې هغه ګټه وشکوله، بيا هماغه متل شي، چې وايي شپه کوه او حجره...

دا د لرې تاريخ نه بلکې د لنډو تېرو څو کلونو مثال دی، پرون يې پارلمان ته ويل، چې "که خدای ناخواسته د ولسمشر يو وېښته ته هم زيان ورسېد نو مونږ به

بیا څه کول؟" خو چې کله یې دنده له لاسه ورکړه، بیا یې همدا ولسمشر خلکو ته خاین ښوده، هغه یې فریبکار د هغه اوښکې یې د تمساح اوښکې او... ښودلې، بل، چې تر پرونه یې د پارلمان او دولت تنخوا خوړه، په هماغه دولت کې ناست وو، او د دولت د درې ګونو قوو څخه د یوې غړی ؤ نو هېڅ خبره نه وه، او چې کله یې په دولت کې خپل صلاحیت، مادیات او... له لاسه ورکړل دومره تند شو، چې آن د دولت وسله وال مخالفین یې په نسبت ډېر نرم وو.

داسې ډېر مثالونه شته دی، چې که هر یو یې دلته بیان کړو، شاید یو کتاب ترې جوړ شي، خو زمونږ د افغانانو یوه ستره ستونزه داده، چې د نورو له ښو او د خپلو تېرو بدو څخه عبرت نه اخلو، دلته هغه متل دروغ دی، چې مار خوړلی له پړي هم وېرېږي، دلته ډېر خلک چې یوځل مار وچیچي بیا یې هم راواخلي او په لستوڼي کې ځای ورکړي، هغه ملتونه، چې له خپل تاریخ څخه عبرت نه اخلي همېشه همداسې تیندکونه خوري، لکه نن، چې زمونږ ملت خوري.

که سوله غواړو باید له نورو یې زده کړو، نورو ملتونو څنګه خپلو کورنیو جګړو ته د پای ټکی ایښی دی، هغوی څنګه په خپل هېواد کې د جګړې اور سوړ کړی دی، لرې نه بلکې په نږدې تاجکستان کې څنګه کورنۍ جګړې ختمې شوې؟ ددغه هېواد یو وسله وال مخالف عبدالله نوري ډېر کلونه د خپل هېواد له نظام سره په جګړه بوخت ؤ، حکومت ورسره نېغ په نېغه خبرې پیل کړې او د هغه د غوښتنو په اړه یې ترې پوښتنه وکړه؟ عبدالله نوري د نورو وړو غوښتنو تر څنګ یوه غوښتنه په اساسي قانون کې د بدلون غوښتنه وه حکومت ورته په ځواب کې وویل، چې اساسي قانون د خلکو د آرامتیا او سوکالۍ لپاره دی، نه د حکومت په ضد د خلکو د راپورته کېدو لپاره نو چې تاسو هر ډول بدلون غواړئ راځئ بدل یې کړو، په ګډه یې په اساسي قانون کې بدلون راوست او په دې توګه یې د خپل هېواد مخالف بچیان په خپله غېږه کې راونیول او د سلګونو کسانو د وژنې مخه یې ونیوه.

ځکه د هغه هېواد مشران خپلو ملي ګټو ته ژمن وو، د خپل ملت قتل عام یې نه غوښت له خپل ملت سره په جګړه کې ښکېلتیا پر ځای یې د هغوی همکارۍ ته لومړیتوب ورکړ، ځکه هغوی پخوا دا تاریخ لاره، چې مونږ ورته د هېواد ودانۍ په ټانګونو چپه کولې، تر څو یې ورته مخالف له هېواده وشړو، خو هغوی زمونږ په افغانستان کې بنسټ ایښودل شوي سنت هلته را ژوندۍ نه کړ او خپل هېواد یې له بربادۍ څخه وژغوره.

خپل بل ګاونډي پاکستان ته به راشو، له هغه چا سره یې هېڅ کار نشته، چې د پاکستان ګټو ته ژمن او د دوی د بالفعل یا بالقوه دښمن د وهلو او له منځه وړلو لپاره ورسره همکار وي، دوی یې ملاتړ کوي او آن لوړ پوړي چارواکي یې په خپلو کورونو کې ساتي، خو د هغو کسانو مړي او جسدونه به په بوجیو کې پیدا کېږي، چې د پاکستان د ملي ګټو په ضد یې خیال هم په ذهن کې را وګرځي.

خو زمونږ په هېواد کې برعکس خبره ده، دلته هغه کسان، چې خپله چوکۍ او رتبه په خطر کې ویني د خپل هغه افغان چې د نظام په مقابل کې یې وسله را اخیستې یوې خبرې ته هم غوږ نه ږدي، او ددې ترڅنګ هغوی، چې د خبرو لپاره کومې دروازې ښودلې هغه په کانکریټي موادو بندوي، د بهرنیانو د ویستلو پر ځای د هغوی د همېشه پاتې کېدو هڅه کېږي او اساسي قانون خو د قرآن حرف ګڼل کېږي، چې د خپلو مخالفینو لپاره په کې یو ټکی بدلون هم نشي منل کېدی خو خپله د حکومت له لوري په هر ګام کې تر پښو لاندې کېږي.

ځکه هر قدم د ملي ګټو پر ځای د شخصي مصلحت پر اساس پورته کېږي، دلته هرڅه د خپلې شخصي ګټې پر محوریت څرخي، ملي ګټې او هغو ته ژمنتیا تر ټولو وروستۍ خبره ده، خلک ډېر په اسانه پلورل کېږي او پیرودل کېږي، هر څه د احساساتو ښکار دي، ستراتیژیک پلانونه نشته، لنډمهاله سیاسي پروژې دي او دولتي پروژې ځکه شتون نه لري، چې دولتونه او حکومتونه سره مدغم شوي دي، سیاستونه پر فرد محوریت څرخي که دولتي پالیسۍ او ستراتیژیک پلانونه شتون ولري چې د حکومتونو په تګ راتګ سره بدلې نه شي نو د استقامت امکان یې ډېرېږي.

بهرني دوستان تر هغو دوستان دي، چې د هغوی دوستان خوشحاله وي، او که د هغوی ستراتیژیک ملګري د افغانستان په کومه ملي ګټه او یا هم ددې هېواد په سیاست خفه کېدل نو هغه سیاست که د افغان حکومت له لوري په خپلې دې نشت بودیجه هم ترسره کېږي، نو مخه یې نیول کېږي، په لوګر کې د امریکایانو لخوا د حکومتي کسانو څخه د پاکستاني طالب قوماندان په زور اخیستل، په کونړ، فراه او هلمند کې د برېښنا بندونو د جوړولو پر وړاندې خنډ جوړول یې ښې بېلګې دي.

که افغان حکومت په رښتیني معنی غواړي، چې هېواد یې د نورو هېوادونو سیال شي تر ټولو لومړی باید خپل ټولو بچیانو ته په یوه سترګه وګوري، ټولو ته په خپله غېږه کې ځای ورکړي، هغوی، چې وسله یې را اخیستې د خپل هېواد ملي او اسلامي ارزښتونو د ساتنې په موخه یې ګڼي او حکومت هم ځان دې ارزښتونو ته ژمن ګڼي، نو بیا ولې په کوچنیو معاملو کې په اختلاف سره جوړ جاړی ونه شي، چې هره میاشت د زرګونو کسانو د قتل مخه ونیول شي، ولې له یو بل سره کیننې تر څو هره ورځ میندې بوري، بچیان یتیمان او مېرمنې کونډې نه شي؟ حکومت ددې پر ځای، چې په خپلو مکارو او دروغجنو بهرنیو دوستانو باور وکړی، پر خپل ملت باور وکړي، د هغو غوښتنو ته ځواب ووایي او له هغوی سره د تقابل پر ځای د تفاهم سیاست خپل کړي، ځکه ملتونه دي، چې د یو هېواد د بدبختۍ او نېکبختۍ لامل کېږي، ملتونه دي، چې حکومتونه تشکیلوي او ملتونه دي، چې حکومتونه رنګوي.

د کاندیداتورۍ د کمپاینونو پرمهال همدې اوسنیو مشرانو خلک په مختلفو وعدو غولول او آن داسې وعدې یې کولې، چې هغه یې بیخي له وسه بهر وې، تر څو پرې د خلکو رایې را خپلې کړي، خو واک ته له رسېدو وروسته یې هغه وعدې په لومړیتوب کې هېرې کړې، افغان ولسمشر اشرف غني به د خپل کمپاین پرمهال همېشه د سنګاپور، هانګ کانګ او ... د اقتصادي پروګرامونو د راکاپې کولو خبرې کولې په داسې حال کې، چې هغو هېوادونو کې د جګړې څرک هم نه لګېده او نه یې په کې ملت او دولت د یو بل سره په جګړه ښکېل و، خو ولسمشر- هېڅکله خپل ملت او یا هم د خپو مخالفو وسله والو سره د سولې د سولې لپاره د کوم هېواد څخه د هغوی د مصالحې د برنامې د راکاپې کولو خبره ونه کړه.

په هر ځای، هر سړک او هر مجلس کې به شعار ورکول کېده، چې "هیڅ افغان له بل افغان څخه کم نه دی او هیڅ افغان له بل افغان څخه زیات نه دی" خو مونږ عملا ولیدل، هغه، چې واک یې لاره، پیسې یې لرلې، جایدادونه او حیثیت یې درلود، په چاودنه کې د سرسري ژوبلېدو له لامله یې ټول دولت په خدمت کې شو، د دولت له لوړپوړو چارواکو څخه نیولې آن تر ډېرې ټیټې کچې ټول چارواکي یې په خدمت کې شول، د هېواد په تر ټولو مجهز روغتون کې بستر شوه، خو د بل بېچاره افغان لور او ټکسي ډرایور، چې څوک یې نه لرل، جایداد یې نه درلود، مرمۍ ضد موټر یې نه درلودل او نه یې په دولت کې کوم لوړپوړی مقام درلود په ساعتونو ساعتونو یې ټوټې ټوټې جسدونه پراته و، خو هیچا لاس نه ور ووړ، او یواځې نه دا، چې جسد یې چا یوې بېکارې شفاخانې ته یووړ، بلکې مور او پلار ته یې د جسد د لېږد لپاره یوه بېکاره دولتي امبولانس هم ورنکړل شو، آیا دا برابرښت به داسې وي؟ آیا ټول افغانان به سره داسې برابرېږي؟ د هغوی ترمنځ به انډول داسې راوستل کېږي؟ دا ټولې هغه پوښتنې دي، چې نوي هېواد مشران باید ورته ځواب ووایي او لږ خپل ذهن شاته بوځي او مخکې له دې چې ملت پرې هغه ډېر لږ کړی اعتبار له منځه یوسي، لږ د دې خپل کړېدلي ملت غوښتنو ته غوږ کېږدي.

احمدضیاء رحیمزی

پاسداران امانت صداقت و راستی!!

سالها قبل در دیار هجرت، هنگامی که در آغازین مراحل کار رسانه یی خود قرار داشتم، شعری از شاعر اردو زبانی بدستم افتاد که نمی دانم چرا، خیلی مرا بخود جذب کرد؛ مفهوم ابیاتی که یافته بودم این بود: "ما دیروز هم پاسداران امانت صداقت بودیم و ما امروز هم از حقیقت رو بر نخواهیم تافت، ما ستاره گان درخشنده صبح خواهیم گشت ولی هیچ گاه تاریکی ها وظلمت ها را قیادت و رهنمون نخواهیم گشت!".

در آن زمان هر چند این ابیات مرا مجذوب ساخت ولی توجه چندانی به آن نکردم، در کشمکش روزگار، چندین بار این ابیات در ذهنم گنجید، ولی وقتی هفته گذشته با جمعی از دوستان گروپ رسانه یی اصلاح از ولایات مختلف، گردهم آمدیم، یکبار دیگر این شعر بیادم آمد و تا ختم مجلس و محفل، معنی و مفهوم این چند بیت مختصر بار بار در ذهنم خطور می کرد!

آری! وقتی در بین تجمع اعضای گروپ رسانه یی اصلاح، جوانان تازه بپا خاسته ایرا مشاهده می کردم که توانسته اند به بازوی همت توانای خود و با حمایت ناچیز مالی مردمی، برای ایجاد یک رادیوی اسلامی و اصلاحی در ولایات مختلف کشور تلاش بخرچ دهند و یا هم در یکی از سنگرهای دیگر دعوت رسانه یی در گوشه ای از خاک این کشور، بدون در نظر گرفتن اندک ترین امتیاز مادی، سرگرم مبارزه علیه تجاوز سرسام آور فکری و فرهنگی استعمار گران غرب اند، نا خود آگاه اشک از چشمانم سرازیر شد!

بار خدایا! این است جوانانی که در سده بیست ویکم میلادی ،که کسی جز پرداخت پول حرفی بر زبان نمی راند، در این کشور فقیر وجنگ زده ،تلاش دارند تا با استعمار گرایی و دین ستیزی، مقابله کنند و برای اقامه دین الهی در این سرزمین و برای گستردن فرهنگ ناب و اصیل اسلامی در این مرز وبوم، سنگر رسانه های اصلاح را گرم نگه دارند.

با دیدن این تجمع جوانان، روزگاری نیز بیادم آمد که یک دهه قبل از امروز قیادت جمعیت اصلاح بنده را موظف تحقیق روی ایجاد یک رادیوی اصلاحی ساخت.

صادقانه بگویم در آن زمان خودم با وجود تجربه کار چندین ساله در عرصه رسانه ها، زیاد متیقن نبودم که بتوانیم در این موجی از فساد و بیراه روی، یک رادیوی دارای اصالت دینی و اسلامی را آن هم در پایتخت کشور و بدون داشتن سرمایه هنگفت مالی و پشتوانه خارجی، موفقانه راه اندازی نماییم، ولی چه عجب که با گذشت یک دهه، نه تنها رادیو صدای اصلاح کابل، امروز یکی از موفق ترین رادیو های دینی و مردمی شناخته می شود، که رادیو های اصلاح در ننگرهار، کندز،بغلان و بلخ هم یکی پی دیگری توسط همین جوانان آزاده و با ایمان و با جمع آوری اعانه از مردم مسلمان و متدین محل، راه اندازی کردند و دارند هر کدام مسیر موفقانه خود را نیز طی می کنند!

از سوی دیگر این امر نیز بذات خود جالب است که در این گیر و دار مادیات و دالر بازاری، باز هم مردمی پیدا می شوند که می خواهند پیام دین الهی را بشنوند و در راستای رسانیدن آن به دیگران وسیله شوند، در عصریکه فساد بحر وبر را آغشته ساخته، مردم متدین و با همت ولایات مختلف کشور، برای تقویت بنیه مالی نشرات رسانه های اصلاح و بخصوص رادیوهای اصلاح، تلاش می ورزند و هر کدام قصد سبقت جویی بر دیگری در این راستا را دارند!

این جاست که باید متیقن شد که ملت مسلمان افغانستان هنوز زنده است و سرسختانه نفس می کشد تا زنده بماند و نباید فراموش کرد که هر کار مردمی و هر حرکتی که اساس و پایه های آن را مردم ساخته باشند، نه تنها موفق است، بلکه توانایی مقابله با هر گونه چالش و آزمون را نیز دارد.

و به این ترتیب بار دیگر تکرار می کنم که :"ما دیروز هم پاسداران امانت صداقت بودیم وما امروز هم از حقیقت رو برنخواهیم تافت، ما ستاره گان درخشنده صبح خواهیم گشت ولی هیچ گاه تاریکی ها وظلمت ها را قیادت و رهنمون نخواهیم گشت!".

اریکی: habibi@eslahonline.net

گلبرگهای ادب

داستان کوتاه زیبا و خواندنی

خردمند پیری در دشتی پوشیده از برف قدم می زد که به زن گریانی رسید. پرسید: چرا می گریی؟ - چون به زندگی ام می اندیشم، به جوانی ام، به زیبایی ای که در آینه می دیدم، و به مردی که دوستش داشتم. خداوند بی رحم است که قدرت حافظه را به انسان بخشیده است. او می دانست که من بهار عمرم را به یاد می آورم و می گریم. خردمند در میان دشت برف آگین ایستاد، به نقطه ای خیره شد و به فکر فرو رفت. زن از گریستن دست کشید و پرسید: در آن جا چه می بینید؟ خردمند پاسخ داد: دشتی از گل سرخ. خداوند، آن گاه که قدرت حافظه را به من می بخشید، بسیار سخاوتمند بود. می دانست در زمستان، همواره می توانم بهار را به یاد آورم و لبخند بزنم.

چهار گام تا تغییر یک عادت بد

تغییر عادت کار سختی است اما با رعایت این چند گام کار خود را آسان کنید.

۱ -گام اول: باید تصمیم به تغییر بگیرید این قدم اول است.

۲-گام دوم: باید مشخص کنید چرا می‌خواهید این عادت را از زندگی خود حذف کنید. روی کاغذ دلایل خود را بنویسید و هم‌چنین با جزئیات بنویسید که بعد از ترک عادت زندگی‌تان چگونه خواهد بود. این کاغذ برای ادامه راه و زمانی که انگیزه‌ی اولیه‌تان فروکش می‌کند خیلی مهم و موثر خواهد بود.

۳ -گام سوم: این است که مشخص کنید که این عادت چگونه به زندگی شما ضرر می‌رساند. مثلا سیگرت کشیدن باعث انواع سرطان، زردی پوست، تیرگی دندان‌ها، بوی بد دهان، بی‌حالی و هزار ضرر دیگر می‌شود. بعد از خود بپرسید که آیا مایل هستی هر روز کلی پول بدهی تا سرطان بگیری؟ مثل این می‌ماند که کسی پول بدهد تا کتکش بزنند. با این کار میزان تمایل شما به تکرار عادت تا حدودی کاسته خواهد شد.

۴-گام چهارم: یکی دیگر از دلایلی که ما عادات بد خود را ادامه می دهیم لذتی است که از بعضی قسمت‌های این عادات می‌بریم. در این مواقع یکی از بهترین و موثرترین روش‌ها، جایگزین کردن این عادات با کارهایی می‌باشد که همان لذت را از طریق مثبت و سازنده با خود همراه دارد. به یاد داشته باشید که جایگزین کردن عادات غلط شما با عادات مثبتی که همان لذت را داشته باشد بهترین و راحت‌ترین راه برای تغییر می‌باشد.

سعی کن آخرین نفری نباشی که کمک می کند

چهل و پنج دقیقه ای می شد که در آن سوز سرما ایستاده بود. زن' کنار جاده منتظر کمک ایستاده بود. ماشین ها یکی پس ازدیگری رد می شدند. انگار با آن پالتوی کرمی اصلا توی برف‌ها دیده نمی شد. به ماشینش نگاه کرد که رویش حسابی برف نشسته بود. شالش را محکم تر دور صورتش پیچید و کلاه پشمی‌اش را تا روی گوش هایش کشید. یک ماشین قدیمی کنار جاده ایستاد و مرد جوانی از آن پیاده شد. زن، کمی ترسید اما برخودش مسلط شد مرد جوان جلو آمد و به او سلام کرد و مشکلش را پرسید.

زن توضیح داد که ماشینش، پنچر شده و کسی هم به کمک او نیامده است. مرد جوان از او خواست بیش از این در آن سرمای آزار دهنده نماند و تا او پنچرگیری می کند زن در ماشین بماند. او واقعا از خداوند متشکر بود که مرد جوان را برایش فرستاده است. در ماشین نشسته بود که مرد جوان تق‌تق به شیشه زد. زن پولی چند برابر پول پنچرگیری در مغازه را که کنار گذاشته بود برداشت و از ماشین پیاده شد و بعد از اینکه از وی تشکر کرد، پول را به طرفش گرفت. مرد جوان با ادب، پول را پس زد و گفت که این کار را فقط برای رضای خاطر خداوند انجام داده است و به او گفت ":در عوض، سعی کنید آخرین کسی نباشید که کمک می کند". از هم خداحافظی کردند و زن که به شدت گرسنه بود به طرف اولین رستوران به راه افتاد. از فهرست غذای رستوران یکی را انتخاب کرده بود که زن جوانی که ماه های آخر بارداری خود را می گذراند با لباس بسیار کهنه و مندرسی به طرفش آمد و با مهربانی از او پرسید چه میل دارد. زن، غذایی ۸۰ دلاری سفارش داد و پس از آنکه غذا را تمام کرد، یک اسکناس صد دلاری به زن جوان داد. زن جوان رفت تا بیست دلار بقیه را برگرداند. اما وقتی بازگشت خبری از آن زن نبود. در عوض، روی یک دستمال کاغذی روی میز یادداشتی دیده می شد. زن جوان یادداشت را برداشت. در یادداشت نوشته شده بود که آن بیست دلار به علاوه ی چهارصد دلار زیر دستمال کاغذی برای وی گذاشته شده است تا برای زایمان دچار مشکل نشود. یادداشت برای آن زن بود و در آخر نوشته شده بود : "سعی کن آخرین نفری نباشی که کمک می کند " شب که شوهر زن جوان به خانه بازگشت، بسیار محزون بود و گفت که به خاطر پول بیمارستان نگران است چون نزدیک زمان زایمان است و آن‌ها آهی در بساط ندارند. زن جوان ماجرای آن روز را برایش تعریف کرد: درباره ی زنی با پالتوی روشن که مبلغ کافی برای او گذاشته بود و نامه را هم به او نشان داد. قطره ی اشکی از گوشه ی چشم مرد جوان فرو ریخت و برای همسرش تعریف کرد که آن روز صبح در جاده به همین زن برای رضای خداوند کمک کرده است.

(منبع ویب سایت ایلاف)

ومعلوماتي

خر د زمري په څېره کې

یوه خره د زمري څېره اغوستې وه چې زمری ښکاره شي. کله به هم چې نورو څارویو او کلیوالو ولید، تري و به ډار شول او و به تښتېدل. هر چا فکر کاوو چې ریښتیا زمری دی. خره هم چې د څارویو او خلکو منډې ولیدې، زړور شو او په هېچا یې ری نه واهه.

یوه ورځ یې فکر نه وو په ونګېدو یې شروع وکړه. کلیوالو یې ونګاری واورېد، کوتکو ته یې لاس کړ او په وهلو یې ساه تري وایسته.

درس:

دروغجن شخصیت پټ نه پاتې کېږي او خامخا رسوا کېږي. ځکه نو باید سړی ځان هغسې وښیي، چې څنګه وي.

